دریمه کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# مرسته کوونکی لاس



**لیکوال:** پایل ډهار
**انځورګر:** وارتیکا شرما

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

ګرانه...ښه، ته پوهېږې چې ته څوک يې. او داسې هم نه ده چې ته به کله دا ليک وګورې.
ښوونکې ما ته وويل چې زه بايد ستا لارښود شم او تا بايد له شاوخوا چاپېريال سره بلد کړم، ځکه چې ته يو نوی شاګرد يې. زه نه پوهېدم چې ''لارښود ' څه ته وايي، نو ما دا په قاموس کې ولټولو. بيا هم، هغې ما ته د **دې** په اړه هيڅ و نه ويل.
علي او زرغونه او سميعه او ملکه، کله چې به مونږ له ښوونځي څخه کور ته تللو، هغوی به تل په دې اړه له ما څخه پوښتنه کوله. ما به هغوی ته ويل چې زه نه پوهېږم چې هغوی د څه شي په اړه خبره کوله، خو دا رښتيا نه دي. زه به څنګه نه پوهېږم؟ ګور، زه تا اړ ايستم چې خپلو ملګرو ته دروغ ووايم.
ستا مخلص
زه



بیا هم سلامونه،

مور وایي چې خلکو ته نېغ نېغ کتل ښه کار نه دی، خو زه ګورم چې هر سړی تا ته نېغ نېغ ګوري. هغوی په ما هم نظر اچوي ځکه چې زه باید ستا تر څنګ واوسم او ستا 'لاربښود' اوسم. ته ولې زمونږ ښوونځي ته راغلې؟ تا ولې هماغه ښوونځي ته تګ ته ادامه ور نکړای شوه چېرته چې ته پخوا ورتلې؟

آیا پوهېږې چې پرون څه پېښه وشوه؟ له اوم ټولګي څخه زروني، علي او دوه نورو ملګرو د ښوونځي وخت وروسته زه یوه کونج ته کړم چې د هغه څه په هکله رانه پوښتنه وکړي چې ته هم ورباندې پوهېږې. هغوی زما بکسه واخیسته او بېرته یې نه راکوله. بیا هغوی دا د سړک غاړې ته د ونو بوټو ذخیره کې وغورځوله او زه اړم شوم چې د بکسې د رااخیستلو لپاره د غره غاړې ته په خاپوړو ورشم. ما خپل کمیس وشکولو او مور مې راته غوسه وه.
دا ټوله ستا غلطي ده.
زه



سلامونه،

زه هغوی ته تل وایم چې هغوی د هر هغه شي په اړه چې غواړي پوه شي ورباندې، له تا څخه پوښتنه کولای شي. له ما څخه نو د پوښتنې کولو هدف څه دی؟ زه نو څنګه باید پوه شم چې ته ولې **هغه** شی لرې یا څنګه دا شی کار کوي؟



که بالکل رښتیا ووایم، زه نه شم ویلی چې زه پخپله کنجاوه نه یم یا دا چې زه هم هغه پوښتنې نه لرم چې نور یې له ما څخه پوښتي. هو، ما دا په لومړۍ ورځ مشاهده کړل کله چې ته ټولګي ته راننوتلې. ما ولیدل چې څنګه تا هر څه په یوه لاس وکړل او څنګه ستا کیڼ لاس هیڅ حرکت و نه کړ. په لومړي سر کې ما و نه شو ویلای چې ستونزه څه وه. بیا چې کله زه نږدې شوم، ما ولیدل چې یو څه خو وو چې سم نه وو. بیا ما فکر کړ چې دا د لوبو لاس دی. یو څه وخت وروسته زه پوه شوم. همدارنګه، د همدغه شي پېښېدل ما د غرمې ډوډۍ په وخت هم ولید.



د بیاځلې لیدو په هیله،

زه



سلام،

زما تر ټولو مشره خور، هغه چې په کابل کې انجینري لولي، نن زنګ راوکړ.
ما هغې ته وویل، "ما په ټولګي کې یوه نجلۍ ده او هغه یو جعلي لاس لري،
" او هغې وویل چې اصلي اصطلاح ""مصنوعي لاس " دی.

غوږ شه، زما ستا لپاره یوبعضې نصیحتونه لرم. ته به نوې او هر څه يې،
خو، که ته غواړې خلک تا ته کتل بند کړي او ستا په اړه خبرې کولو ته د
پای ټکی کیږدي، ته باید په کونج کې هر وخت دریدلیدو څخه ډډه وکړې.
ته ولې مونږ سره لوبې نه کوې؟ ته ولې ټال ته نه راځې؟ هر سړی لامبو
وهلو سره مینه لري. دوه اونۍ شوې دي، او زه به د تل د پاره ستا پام
لرونکی نه یم.

کله کله زه نه پوهیږم چې زه تا ته څه ووایم. زه







بيا ځلې سلامونه،

په هغه ورځ د غرمې ډوډۍ پېښې وروسته، زه تا څارمه. زه فقط کنجکاو يمه. آيا د يوه لاس درلودل د تعجب خبره ده؟ آيا يوازې ستا لاس که ستا ټول مټ جعلي بخښنه غواړم، مصنوعي دی؟

نن، زه، سميعه او زرغونه يو ځای ښوونځي ته ولاړو. هغوی د د يو لاس ننګونه په نوم يوه لوبه کوله چې هغوی ترتيب کړې وه. قاعده يې دا ده چې ته بايد کارونه په يوه لاس ترسره کړې. لکه د خپلې بسې بسته کول يا د خپل کميس تڼۍ تړل.







سمیعې و نه شول کولای خپل د بوټونو تسمې وتړي او د هغه دا خبره لا
یاده ووتله او تیندک یې وخوړ او پرېوتله. د هغې زنه ټپي شوه. ښوونکې دا
ولید او، که څه هم هغې لږ مکروب ضد کریم په ټپ پورې کړ، هغې
سمیعه د ناپامۍ لپاره وترټله. ”ته نه شې کولیا د خپلو بوټونو د تسمو په
نه تړلو سره په غرونو کې کښته پورته منډې ووهې. که کور ته د تګ پر
مهال یا د بل کوم کار په جریان کې پرېوتې نو بیا؟“
زه فکر کوم غټان ډېره زیاته اندېښنه کوي.
ستا مخلص،
زه





سلامونه،

آیا پوهېږې چې تصادف څه ته وايي؟ دا داسې دی چې کله ته د یوه شي په هکله غږېږې او هماغه شی لږ وروسته په بشپړه توګه په یوه غیرمتعلق طریقې سره پېښ شي.

زما په تېر لیک کې، ما تا ته د سمیعه او د بوټانو تسمو په هکله خبره کوله، او بیا، نن، ما ته ولیدلې چې خپل د بوټونو تسمې دې تړلې. واه واه، دا ډېر په زړه پورې وه! فکر کوم چې تا دا کار تر ما هم په چټکۍ سره تر کړ که چېرې ما به په دواړه لاسونو کاوه. که ته زما ملګری وې، ما با ته د بوټونو تسمو تړلو مسابقې لپاره ننګولې وې.



زه باید اعتراف وکړم چې کله زه کور ته ورسېدم ما په یوه لاس د بوټونو تسمو تړلو هڅه وکړه. خو دا کار ناشونی دی. ته دا کار څنګه کې؟ ښايي زه به سبا له تا څه پوښته وکړم.

پلټونکی،

زه







سلام،

نو، وروسته له هغې چې تا څه وویل، ما په یوه لاس د ډېرو کارونو ترسره کولو هڅه کړې ده، خو دا کار ډېر ستونزمن دی! زه لا هم نه پوهېږم چې ته څنګه دا کار کوې، لکه لامبل، د کالو اغوستل، د خپلې بکسې برابرول. د هاغه ورځې د غرمنۍ راهیسې، زه رښتیا هم دې پای ته ورسېدم چې ته اړ یې بعضې کارونه په جلا توګه ترسره کړې، خو داسې هم نه ده چې ته نږدې هر کار هغسې نه ترسره کوې چې مونږ باقیمانده خلک یې ترسره کوو.



غغوږ شه، زه هغه څه په اړه بخښنه غواړم چې مخکې مې ویلي...له مونږ سره د لوبو کولو په هکله. زما اټکل دی چې ته فقط شرمېدلې. او هم ټال ته د راتګ په هکله. ما هڅه وکړه خو که په دوه لاسونو یې و نه نیسې نو د خپل اندول ساتل به درته ستونزمن وي. خو ته په jungle gm کې ډېره تکړه یې، آن که ته له سیخونو راځوړنده نه شې هم، او ته واقعاً ډېره تېزه منډه وهلی شې، آن له علي څخه هم چټکه، چا چې د سپورټ/ورش په ورځ لومړی جایزه ګټې وه.

د الله په امان،

زه



السلام علیکم،

فلم ډېر خندوونکی و، کنه؟ ما دومره وخندل چې په ګېډه مې درد شو او داسې وم لکه ژړل چې مې. زما تل خوښېږي کله چې هغوی په ښوونځي کې فلمونه ننداري ته وړاندې کوي. دا په دې مانا دی چې درسونه به نه وي.

تېر ځل، زمونږ ښوونځي ته ستا تر راتګ وړاندې، هغوب به د پړانګ د بچي په اړه، چې ورک شوی و، فلم ښودلو. دا ډېر ډاروونکی و، تر ډېره ځکه چې دا یو هرښتینې کیسه وه. وروسته بیا یو چا دا پیدا کړ او وتوانېدو چې کورنۍ ته یې په بېرته وسپاري. دا ډول کیسې مستند فلمونه بلل کېږي، آیا ته له دې څخه خبر وې؟ د پړانګ بچیان ډېر زړه راښکونکي دي، کنه؟

تېر کال، زمونږ کور ته ځېرمه یو پیي و. دا هم ډېر په زړه پورې و، خو دا غټ شو او بیا نو هغسې په زړه پورې پاتې نه شو.

اوس زه باید ولاړ شم!


زه





سلام، سلام!

آيا پوهېدې؟ کله چې ما ته په بس کې وليدلې، زه څومره حيران شوم.
ګومان مې هم نشو کولای چې زما پلار به هم په هماغه ځآی کې دنده
ترسره کوي چېرته چې ستا پلار دی! خو ډېره خوښ يم چې د دفتر چکر
ته راغلې، ځکه تېر کال چې هغوی مونږ بوتللو، زما د عمر نور کوچنيان
نه وو او ما هيڅ خوند وانخيست. سمه ده، زه ډېر ستړی يم، نو زه اوس
خم. سبا په ښوونځي کې تر بيا ليدو پورې د الله په امان.
زه



سلام،

فکر کوم چې زه باید تا ته خبرداری درکړم، چې مدیر صاحب د کلنۍ ورځ په راسېدو سره یو څه بې چتې کېږي. هغه ښايي پر تا چيغه وکړي – هغه پر هر چا چيغه کوي – نو په زړه يې مه اخله. زما مور وايي چې تر ډېر زيات فشار لاندې دی ځکه زمونږ د کلنۍ ورځې کړنې پر هغه منعکس کېږي.

زه نه پوهېږم چې دا څه مانا لري، خو هغه واقعاً فشار ځپلی ښکاري. آيا تا د هغه ويښتان ليدلي؟ دا نو داسې دي کله هغه چې يو لوڅ مزی لمس کړی وي او برقي شارټې يې خوړلې وي! که څه هم زه فکر کوم چې ملکې د هغه په څوکۍ کې د چينډخ په ايښودلو سره ډېر سپک عمل ترسره کړی و.

ښا، زه اوس ځمه مخکې له دې چې هغه ما د دې ليک په ليکلو ونيسي! زه











سلام،

ستا نوی لاس ډېر ښکلی دی! خفه کېږه، خو هغه پخوای یو څخه بې خونده و. دا نو بس ... و. نوی لاس سم لکه جادو داسې، او ورسره ګوتې او منګولې خوځولی شې! هیله چې زما له خوا د روغبړ کولو غوښتنه باندې به خوابدې شوې نه اوسې. مخکې له دې چې فکر وکړم بس له خولې مې ووتل.

شاید مونږ سبا بعضې تجربې ترسره کړو چې وګورو آیا ته په دې سره شیان پورته کولای شې او که څنګه.

اوه! اوس مې پام شو، یو څو پخوانیو لیکونو کې چې ما تا ته لیکلي، ما ستا د مصنوعي لاس په اړه هیڅ یادونه و نه کړه. داسې معلومېږي چې ما د دې په اړه هر څه هېر کړي وو او غوښتل مې چې تا ته نورې ډېرې خبرې وکړم. د تعجب خبره دا ده، چې زه نور ستا د لاس په هکله هغسې کنجکاوه نه یم. زه نه پوهېږم چې ولې.

ستا ملګرې،

زه



## د ازموینه

*تاسې له ملګرو سره له ټولنیز اړخه په محیط کې د مدغم کولو په مرسته کې څومره مؤثره یاست؟ دا معلوملو لپاره زمونږ ازموینه کې ګډون وکړئ!*

**1.ستاسې ښوونکی له تاسې څخه غوښتنه کوي چې نوی زده کوونکی په ښوونځي کې اشنا کولو لپاره وګرځوئ. تاسې څه احساس لرئ؟**

**الف:** *عالي! یو نوی ملګری!*

**ب:** *ولې هغوی په خپله چارو سره ځانونه عیارولای نه شي؟*

**ج:** *اوه.....*

**2.ستاسې په ټولګي کې یوه نجلۍ ګوډه ګوډه ګرځي. نور په هغې پورې خاندي. تاسې څه کوئ؟**

***الف:*** *هیڅ – دا په تا پورې اړه نه لري.*

**ب:** *زهغې ته وایم چې د هغوی په کیسه کې مه کیږه – هغوی بې ادبه دي.*

**ج:** *له خپلو ټولګیوالو څخه پوښتنه کوم چې تصور وکړي که چیرې هغوی د اوس په پرتله بل ډول وای نو.*

**3.ستاسې نوی ټولګيوال خپلو درسونو کې ستونزه لري. تاسې څه کولای شئ؟**

*الف: په ټولګي کې تر ټولو ذهين زده کوونکي ته وايم چې هغې ته خپل نوټونه ورکړي.*

*ب: ښوونکي ته وايم –دا د هغې دنده ده چې هغه سره مرسته وکړي.*

*ج: هغه نه غوښتنه کوم چې آيا ته به هغه سره د هغه د کار په برخه کې مرسته وکړې.*

**4.په ټولګي کې نوې نجلۍ شرمندوکې ده. هغه له هيچا سره لوبه نه کوي. ته څه کولای شئ؟**

*الف: په خپل حال يې پرېږدم – هغه به ګډون وکړيي کله چې چمتو شوه.*

*ب: اړيکه ورسره نيم او هغه په لوبو کې ګډون ته اړ کوم*

*ج: ورځم او څنګ ته يې کښېنم –کېدای شي هغه خبرې اترې پيل کړي.*



## خپل نومرې مو واخلئ:

**لومړۍ پوښتنه:**

**3 - ج ; 2 - ب ;1 - الف**

**دويمه پوښتنه:**

**3 -ج ; 1 - ب ;2 - الف**

**درېيمه پوښتنه:**

**1 - ج ;2 - ب ;3 - الف**

**څلورمه پوښتنه:**

**3 -ج ;1 - ب ;2 -الف**

**اوس يې جمعه کړئ. که تاسې ... نومرې اخيستې وي**





**۴-۶ نومرې:**

تاسې پیدایشي ملګری یاست، تل د مرستې کولو لپاره چمتو یاست. تاسې د خلکو له خوا د مرستې د غوښتنې غږ ته په تمه نه پاتې کیږئ – تاسې تل چمتو یاست، په دې تمه چې هغوی سره مرسته وکړئ.

**۷-۹ نومرې:**

تاسې یو ازاد شخص یاست او فکر کوئ چې خلک هم باید همداسې اوسي. خو دا په دې مانا نه دی چې تاسې پاملرنه نه کوئ – تاسې بس نه غواړئ چې څوک مجبور کړئ.

**۱۰-۱۲ نومرې:**

تاسې ښایي یو څه شرمندونکی اوسئ، خو تاسې مهربانه زړه هم لرئ. تاسې له نورو سره د مرستې کولو او هغوی ته د ارامښت احساس ورکولو لپاره هر هغه څه کوئ چې تاسې یې په غیرمستقیم ډول ترسره کولای شئ ورکړئ.

# لارښودونکې پوښتنې

1. د لیکوال چلند د هغي نوي انجلۍ  په اړه د وخت په تیریدو سره څنګه بدل شه؟ ولې فکر کوئ چې د هغه فکر بدل شه؟
2. ستاسو د مطاللعې په اساس، دغه انجلۍ به کوم احساسات په ښوونځي کې را څرګند کړي؟
3. " د خلکو نیمګرتیاوې د دوی د شمیر په پرتله ډیرې دي" آیا کولای شئ د دې خبرې ثبوت په همدغې قیصه کې په نښه کړئ؟ آیا داسې خلک پیژنئ یا مو لیدلي دي چې په مختلفو برخو لکه ورزش، هنر او داسې نورو کې نیمګرتیا ولري؟
4. که چیرته ستاسو په ښوونځي کې داسې یو څوک چې مصنوعي لاس ولري وي، کوم ډول چلند به ورسره وکړئ؟ آیا ستاسو چلند به هم د همدغو ماشومانو په څیر وي کوم چې په قیصه کې یاد شوي وو؟
5. د دغې قیصې لیکدود د نورو قیصو په پرتله څومره ښه یا ښه نه ؤ؟ آیا همدا ډول قیصه لیکل خوښوئ؟